مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۳/۱۰

# فیمینیزم، زمونږ ټولنه

## او د ښځو نړیواله ورځ

**موږ باید په تشو خبرو سره د مارچ د اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای، عملاً داسې څه وکړو چې ښځه د ټولنې له خوا، له بل کړای شوي اور نه را وباسو.**



زموږ په هیواد کې د ښځو پلوي کول او یا د ښځو له حقونو څخه د دفاع په سنګر کې دریدل، یو وخت ګناه ګڼل کیده. اوس هم د فیمینیزم (هغه لار او هغه نهضت چې د ښځو او نارینه وو د حقونو برابري غواړي) د کلمې په اوریدو سره، ښایي د ځینو په فکر د کفر دایرې ته شاملیدل وانګیرل شي.
ټولنه دومره وروسته پاتې ده چې د «ایزم» کلمه اوس هم کله نا کله له کفر سره مساوي ګڼل کیږي. د یوه مشر فرهنګي د خولې خبره ده چې ما ته یې مخامخ کړې ده، هغه وفرمایل:

«هیله را نه وشوه چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په ماستري پروګرام کې د «ادبي مکتبونه» په نامه یو مضمون تدریس کړم. په لومړۍ ورځ چې ټولګي ته ورغلم، له پیژندګلوۍ نه وروسته مې د کورس د شاملینو د مطالعې د کچې، د پوهېدو د څرنګوالي او د سویې د مالومولو په غرض خو پوښتنې له دوی نه وکړې. یو زلمی مې و پوښت:

تاسو د «ایزم» په مانا څنګه پوهیږئ؟
هغه په ځواب کې راته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

استاده دا خو ډېره ساده پوښتنه ده، ځواب يې دى:
«ايزم» يعني كفر، هغه څوك چې اسلام نه مني لكه ماركسيزم، لينينزم او...
په يوه ټولنه كې د لوړو زكړو زكړيال چې د ليسانس په كچه يې زدكړې كړې وي، د ماستري ډګري په تر لاسه كولو پسې راوتلي وي او داسي سويه او فكر ولري، نو له هغو خلكو نه يې څه ګيله ده چې نه يې ښونځۍ ليدلى وي او نه سواد ولري؟
اوس كه سرى د مارچ د اتمې په پار دې ټيپ خلكو سره د ښځو پر حقونو غږيږي او د فيمينيزم نهضت ورسره مطرح شي، هغه به څه وايي؟ خو نن سبا په ټولنه كې د ځلورم ځواک (ميډيا) پر مټ دومره كار شوى دى چې پرته له ډاره ، په ازاده فضا كې د فيمينيزم په باب بحثونه كيږي. پوښتنې مطرح كيږي او ځوابونه ورته ويل كيږي.
دلته به زه د مارچ د اتمې د درناوي په پار د خپل يو دوست له پاڼې نه همداسي يو سوال ځواب را واخلم:
«ګنو ښځپالو (فيمينيستو) پوښتلي، چې څنګه كړاى شو، په افغاني ټولنه كې د ښځو په اړه د دوهمه درجه انسان فكر او دود بدل كړو؟
لومړى، په افغانستان كې يوازې ښځې نه، بلكې هر بې ټوپكه او بې پيسو انسان دوهمه درجه موجود ګڼل كيږي. دلته بايد كار له انسانپالنې (عقلانې هيومانيزم) څخه راپيل شي او هغه داسې، چې د محروميت ځپلې افغان انسان د خيټې او انساني ژوند د شرايطو غم وخورو.
دوهم، د ښځو ټولنيز، فرهنګي او سياسي دريځ تر هغو نه شو بدلولاى، چې هغوى په نس مړې، په تن پټې، د كار و زده كړو خاوندانې نه شي. د تمدن تاريخ ښيي، چې په بشري ټولنه كې د ښځو ونډه هغه مهال زياته شوې ده، چې دوى په توليد كې د ونډې څښتنې شوي دي. په افغانستان كې توليد په نشت شمار دى او د ښځو ونډه خو بيخي ترنشته هم ورهاخوا ده.
دريېم، د ښځو په اړه فرهنګي ليدود يوازې په رسنيو او رسمي ستېژونو كې نه شو بدلولاى، تر هغو چې يې په زړونو او ذهنونو كې بدل نه كړو. موږ د ځلويښت كلنې جګړې په اوږدو كې ګڼ انساني ارزښتونه او له هغو څخه عاطفه بايللې، تر څو اخلاقي، انساني او فرهنګي ارزښتونه بيا ونه مومو يا يې ونه رغوو، د ښځو، بلكې د (انسان) په اړه مو شته نا انساني تفكر او تصور نه شي بدليدلاى.
له معنوي پلوه ټولنه له تاداوه ويجاړه ده، تر ښځمنو يا نرينه وو وړاندې (انسان) وژغورئ، خپلو حقونو ته د ښځو د رسېدلو ضمانت زه دركوم.»

زما د فرهنګي دوست په پاسنۍ ليكنه كې زموږ په ټولنه كې د ښځو دريځ، ستونزې او د حللارې په لنده توګه توضيح شوې دي، كه وكولاى شو چې په نسبي دول يې تطبيق كړو ډېره به ښه وي چې د ښه والي په لور مو يو ګام اوچت كړى وي؛ خو موږ په ټولنه كې په تيره د ښځو د ژوندانه په برخه كې بيشميره ستونزې لرو او ليدل كيږي چې په دې اوركې تر ټولو لومړى ښځه سوځې.
په همدې لنډو ورځو كې د بي بي سي له لوري په يوه خپره شوې مقاله كې په زغرده ويل شوي دي چې: افغانستان د ميندو له پاره د نړۍ تر ټولو نا وړه او بد هيواد دى. هلته ويل شوي دى:

**«افغانستان از بدترين كشورها براى مادران در جهان است. آمار مرگ و مير مادران هنگام زايمان در اين كشور از هر ۱۰۰ هزار زن به ۸۰۰ تا ۱۲۰۰ نفر مى‌رسد...»**

اوس چې دومره ستونزې او جنجالونه لرو، موږ بايد څه وكړو؟
موږ سره ښايې چې خپل نيمايي بدن (ښځې) په خپله غوڅ نه كړو، موږ بايد د ښځو درناوى وكړو، د زدكړو او ښه ژوند زمينه ورته برابره كړو او طبعي حقونه يې تر پښو لاندې نه كړو، دويمه درجه انسان يې ونه ګڼو او...
موږ بايد په تشو خبرو سره د مارچ د اتمې ورځې د لمانځلو پر ځاى، عملاً داسې څه وكړو چې ښځه د ټولنې له خوا، له بل كړاى شوي اور نه را وباسو.

پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكې په خير و لولئ